# د یادونو مقبرو کښې

## (ډاکټر اسلم خان د بنو)

سعدالله جان برق

۱۲

تر دغه وخته ما هم ډېرې خاورې چاڼ کړې وې چې زما یو ترهٔ (د پلار د ترهٔ زوے) په بنو کښې د مصالحې کاروبار شروع کړو. بنو د مصالحې د پاره مخکښې نه مشهور ؤ او مشهوره ترسګُونه مصالحه ئې په هر لورې مشهوره وه خو زما ترهٔ دغه مصالحه په ډبو کښې د بندولو کار شروع کړو. د ګټې یو پاؤ وزن دار د مصالحې په دغه ډبو به ئې "سالن" مصالحه باره اجزا کا مجموعه لیکلې وه او په ډبو کښې د بندولو د دغه کار د پاره ئې مونږه یو څو کسه د کلي نه بوتلي وو. مصالحه ښهٔ درز کښې چلېده خو زما هغه ترهٔ شاید چې ماته په خوئي یا په عقل کښې تلے ؤ چې رجسټرډ کړې ئې نهٔ وه نو چې ښه مشهوره شوه نو د پېښور یو د نکریزو والا دغه نوم دغه ډبے او دغه ټرېډ مارک شروع کړو خو اصلي سوداګر ؤ نو اول ئې رجسټرډ کړه ځکه چې هغه زمونږ واله خو رجسټرډ نهٔ وه. مالدار هم ؤ نو په ډېره لویه پېمانه ئې پبلسټي هم شروع کړه. ترهٔ مې پرې مقدمه وغېره وکړه خو اصل غېرقانوني شو او نقل قانوني وګرځېدو. څهٔ تقریباً څلور کاله په دغه سلسله کښې زهٔ په بنو کښې وم او هم دغه هغه زمانه ده چې ما د ادب په دنیا کښې باقاعده قدم کېښودو، هسې خو مې څهٔ اړتو پړتو شاعري د سکول د زمانې نه کوله. تر کومې پورې چې ما د ځان په باره کښې څېړنه کړې ده نو د شاعرۍ دا جراثیم کهٔ څهٔ د پلار د یو شعر نه راته لګېدلي دي خو

پالنه او روزنه ئې زما مور او ماماګانو ورې ده ځکه چې د ماماګانو د حجرې ذکر خو ما وکړو چې جمال به پکښې کتاب وئیلو خو زما مور چې د دغه کور وه، به هم دا کتابونه لوستل او بیا دلته ئې هم تر مرګه پورې دغسې کتابونه وئیل او لوستل، بلکې دومره پکښې مشهوره شوې وه چې یو ځل زهٔ څهٔ موده پس کلي ته راغلم نو څهٔ ګورم چې د محلت بلکې د ټول کلي بوډیانې یوه یوه راتله او په کټونو کښې کښېناسته.

پوه نهٔ شوم ځکه چې مونږ کره خو څوک مرګي حال بیمار هم نهٔ ؤ چې د مرګ دا مچان راتلل. بوډیانو ښځو له دا نوم ما ورکړے ؤ چې خدائے خبر د عزرائیل د وزرو یا پښو کشار اوري کهٔ څهٔ چل دے خو چې کوم کور ته راغونډېدل شروع شي نو هلته خامخا څوک مري خو مونږ کره د دې اجتماع پته بیا ماته دا ولګېدله چې د حسنیانو میاشت (محرم) ده او په دغه ورځ به زما مور جنګنامه وئیله او دا ئې مستقلې اورېدونکې وې نو د ماماګانو او د مور دغه کتابي ذخیره کښې به ما هم اکثر مښوکه وهله او بیا راته دا مرض دومره سخت ولګېدو چې پېسې به مې جمع کولې او دغه کتابونه به مې اخستل. په پېبو کښې په زیارت اتوار یو سرے راتلو او په کټ به ئې د پښتو کتابونه خرڅول اکثر به چې راسره پېسې نهٔ وې او کتاب به مې خوښ شو نو غلے غوندې به مې د څادر د لاندې ترخ ته کړو. په هغه زمانه کښې ماته د دنیا د

ټولو نه لویه عیاشي دا ښکارېده او کوله به مې چې کتاب به مې را پېدا کړو په پټې کښې به مې ګڼے ګڼه ړی کړو. زمونږ کلي کښې د ګڼه ړو سپین ګڼي کرلے شي، دغه ګڼه ړی به مې اړخ ته کېښودلې، په ملاسته به مې یوه یو ه ګڼه ړی هم ژووله او کتاب به مې لوستلو. د احمد جان، ملا نعمت الله، سېد بوعلي شاه، امان، فیاض او داسې نورو ډېرو پخوانو شاعرانو ډېر ښائسته کتابونه د غه دور کښې ما کتلي وو. اوس ورپسې ډېر خفه یم خو لاس ته نۀ راځي شاید چې ورک شول او دا ډېر لوئے نقصان دے، ډېره لویه سرمایه وه.

کله کله به پېښور ته هم تلم، کتاب به مې واخستو او څۀ د خوراک ورسره هم او وزیر باغ سره به د ښار په ادیره کښې د دوو قبرونو مېنځ کښې څملاستم او عیاشي به مې کوله هغه ټول ځایونه نن سبا خلقو ګېر کړي دي او کورونه پرې اباد دي نو بنیادي مرض خو را کښې پروت ؤ او چې په بنو کښې ئې سازګار ماحول بیا موندو نو ښه وده ئې وکړه. هم دغه ورځې زما د ادبي سفر د ابتداء ورځې دي، هر څۀ به مې په اخبارونو او رسالو کښې د بنو په حواله یادېدل حالانکې صرف د ۱۹۲۰ء نه تر ۱۹۲۵ء پورې څلورکاله زمانه وه خو تر ډېره پورې د خلقو دا خیال ؤ چې زۀ د بنو یم او د دې سره د نورو سره سره د ډاکټر محمد اسلم خان په سردره د بنو په ټانچي بازار کښې ئې د دوایانو دکان ؤ، شاعر ادیب نۀ ؤ خو شعر ادب او صحافت سره ئې مینه وه. زما نه لږ وړاندې ئې یوه هفته واره رساله هم وېستله چې "هلالِ نو" نامه ئې وه خو زما وخت کښې بنده شوې وه، نۀ شم وئیلے چې په اول ځل زۀ څنګه د ډاکټر صېب دکان ته لاړم او ورسره مې تړون پېدا شو خو دغلته به نور شاعران، ادیبان او صحافیان هم راتلل نو په څۀ واسطه ورسره زما هم تعلق پېدا شو، ورو ورو بیا دا تعلق خورېدو، حد دا چې د بنو د ټولو شاعرانو ادیبانو سره مې وپېژندل او په مشاعره کښې به شاملېدم خو دا هم را نه هېر دي چې په اول ځل څنګه او په څۀ طریقه مې کلام اورولے ؤ خو دا راته یاد دي چې اولنے غزل مې په شهباز کښې چاپ شوے ؤ.

په ګلونو کښې ګلاب دې خدائے لري
او په ستورو کښې ماهتاب دې خدائے لري
شاعران به ولې نۀ زیاتېږي برقه!
د رحمان بابا کتاب دې خدائے لري

بنو څۀ یو ډېر بل شان ښار دے په ما باندې ئې اوس هم نوم ښۀ لګي، یواځې دا نۀ چې ما پکښې د شعور سترګې غړولې دي بلکې هسې هم بنو کښې ډېر صفتونه دي، د ټولو نه اول خو پکښې دا صفت دے چې لکه د مردان بنو هم مکمل او خالص پښتنو او د پښتو ښار دے. نورو ښارونو کښې نورې نورې ژبې هم اورېدلې شي خو دا دواړه خالص د پښتو ژبې ښارونه دي. بل صفت په دواړو کښې دا دے چې ښارونه دي او د ښارونو هر څۀ پکښې شته خو ماحول ئې بالکل پښتون کلي وال ماحول دے.

زما د مهربانانو او محسنانو په فهرست کښې د ټولو نه اولنے نوم د ډاکټر اسلم خان دے چې د ادب په دنیا کښې ئې زۀ ورداخل کړے او روان کړے یم. په خپله نۀ شاعر ؤ، نۀ ادیب خو زۀ ئې احسان نۀ شم هېرولے. زۀ ئې بالکل لکه د خپل خاندان د یو رکن ګڼلے وم. د ډاکټر صېب په زامنو کښې مشرے خو اکرم خان ؤ چې زما ورسره تعلق ؤ خو کم. په دکان کښې به ورسره اجمل قمر ؤ چې نن سبا د بنو ډېر پېژندلے او منلے صحافي دے. بل ورور ئې انور خان ؤ چې هغه وخت کښې ئې لا سبق وئیلو بیا په فوځ کښې

برتـي شـو او بريگيـډيئر ريټـائرډ شـو. د نـادرا نـومي محکمـې بنيـاد هـم انـور خـان پـه دې صـوبه کښـې اېښودلے ؤ. په ما ډېره خاصه مينه کوي بلکې د پلار په شـان راتـه گـوري. يـوه ورځ چې ريټـائرډ کېدو نـو پـه شامي روډ يو هوټل کښې تقريب ؤ، اجمل قمر هم د بنو نه راغلے ؤ،زۀ اجمل قمر او غالباً چې افضل خان درې واړه يو ځائے ناست وو. انور خان ټولو حاضرينو تـه ووې چې دا زمـونږ ځلـورم ورور دے، پـه دې موقـع افضـل خـان د اطلاعـاتو سـېکرټري هـم پـاتې دے. نـن سبا جوړې پـه الېکشـن کمېشـن کښـې د سـېکرټري پـه عهده دے. دے د ټولو نه وړوکے ؤ او هغه وخت کښې ئې په پرائمرۍ کښې سبق وئيلو. ډېره ښۀ مينه ناکه، مخلصه او نره کورنۍ ده او زۀ خو ئې ډېر ممنون يم. انور خان سره د مشهور او بې مثله سندر غاړي فضل مالک عـاکف خور ده کوم چې د يو ډېر ځان له طرز شوقي سندر غاړے ؤ او نن سبا په کېنېډا کښې دے. بل زما مشر او رهنما قاضي عطامحمد ممتاز ؤ چې هم د ډاکټر صېب دکان تـه مخامخ بـه ئې د "کوهسـار" نومي هفته وار اخبار وېستو دا هم هغه کوهسار دے چې بيا يو وخت کښې ما او سليم راز به ئې مياشتنے ايډيشن د يوې معياري پښتو ادبي رسالې په شکل کښې وېستو. د دې رسالې د خريدارانو دپاره ما او سليم راز ټوله پښتونخوا چاڼ کړې وه خو افسوس چې هغه ډېره د بې حسۍ زمانه وه نو ډېره مو ونۀ چلولې شوه. اوس خبره راغله نو دا وئيل هم ضروري دي چې د پښتو يوه ادبي رساله وېستل زما ارمان ؤ، درې ځلور ځله مې کوشش هم وکړو او د پښتنو اکثره مشرانو، پيرانو، ليډرانو ته مې منتونه کړي دي چې يوه رساله وېستل پکار دي چې ستاسو نوم به هم عمر له ژوندے ساتي خو؟

برقـه څـه پـه خپلـه لاره چغـې مـۀ وهـه پـه زوره
اودۀ خلق نۀويښـېږي هسـې سـپي درپسـې کېږي

اصـل کښـې هغـه زمانـه د پښـتو او پښـتنو دپـاره ډېره د مصيبتونو وه. د ايوب خان سخت جابرانه دور ؤ او بيـا پـه خاصـه توگـه زمـونږ نـه لـږه مـوده وړانـدې د پښتو څۀ رسالې "لار"، "تنگيالے"، "رهبر" وغېره بندې کړې شوې وې څۀ خو واقعي د افغانستان نه پېسې خوړلې خو څۀ پکښې هسې راغلل او پـه سرکاري کاغذونو کښې "پښـتو" نوم د سره خطرناک درج شو، چا بـه چې پښـتو نـوم واخسـتو يـا بـه ئې د پښـتو ادب سره تعلق لرلو نو سي ائي ډي به ورپسې لګۍ شوه. زمونږ پـه مشـاعرو کښـې بـه باقاعـده سـرکاري پرچـه نـويس ناسـت ؤ او هـره مشـاعره بـه چې کېدلـه نـو دا اعلان به پکښې لازمي کېدو چې سياسي شاعري بنده ده خو عجيبه خبره دا وه چې کۀ د پاکستان، قائداعظم يا ايوب خان صفت به دې کولو نو هغه سياسي نه ؤ، هم دغـه هغـه سـپېره زمانـه وه چې ښـۀ شـاعران ئې پـه منافقت او سرکاري صفت مجبور کړي وو. دروغ او منافقانـه ترانـې، ملـي نغمـې بـه خلقـو د ځـان د صـفا ثابتولو دپاره مجبوراً ليکلې. د پښتو او پښتنو نوم دومره خطرناک ؤ چې يو ځل ما د رېډيو يوې مشاعرې له يو نظم ليکلے ؤ، خېر نظم روماني ؤ او د جانان غم ته مې پکښې وئيلي وو تۀ زما مېلمه ئې او

اخر پښتون يم د مېلمه قدر ايمان گڼمه

ارباب عبدالودود پروډيوسر ؤ، راتـه ئې وئيـل چې دا پښـتون ټکـے تـرې لـرې کـړه او د دې پـه ځـائے مسلمان ووايه، ما وې نو د مېلمه قدر ايمان گڼل خو صـرف د پښـتنو او عربـو خصوصـيت دے، تمـام مسلمانان خو په دې کښې نۀ راځي. وئيل پته ده راته خو ورور شه کنه ما وې ښه ده نو مسلمان خو ئې نۀ شم ليکلے خو کۀ دې خوښه وي نو عرب به ئې کړم، وئيل

عرب ئې کړه خو پښتون ترې لرې کړه، ما وې نو کمال دے زۀ چې عرب یم نۀ نو څنګه ځان ته عرب ووایم. خبر خو د هغۀ په ډېر اصرار باندې مې نظم کښې خو بدلون ونۀ کړو خو بل یو "بې ضرره" غزل مې ورکړو. ډېر سخت وخت ؤ لیکل خو پرېږده چې خطرناک شے به د ویرې چا لوستلو هم نۀ. زمونږ اخبار بانګ حرم به ډېرو پښتنو افسرانو د شپې پټ لوستلو.

یوه ورځ زمونږ د ساهو لیکونکیو مرکې یو نشست ؤ، یو سي آئي ډي واله هم خپلې ډیوټۍ له راغلو، قلندر صېب له ئې نوم ورتلو نو د نشست د صدارت اعلان ئې هم د هغۀ وکړو، غریب ډېرې لتې وټکولې خو مونږ پرې نۀ ښودلو، خدائے خبر چې د دغه اجلاس رپورټ به هغۀ څنګه ورکړے وي. د سي آئي ډي اکثرو کسانو سره به مونږ شرارت کولو. هوټل کښې به چې راپسې راغلل نو مونږ به په زور ځان سره کښېنولو یا به په خپله ورغلو او و رسره به کښېناستو، کله کله به مو هسې فضول ګرځېدل شروع کړل او ښۀ به مو ستړے کړو. ما خو چې کله خپلې اکثرې فرښتې وپېژندلې نو سحر وختي به مې ورته ووې چې کۀ څۀ کار دې وي هغه لاړ شه وکړه او زما نن ټول پروګرام داسې دے او تۀ ئې ښکه د اوس نه په رپورټ کښې لیکلے شې. کله کله به چې چرته "خطرناک" ځائے مثلاً د سیاسي لیډر کور یا د پارټۍ دفتر ته ورغلم نو د لرې نه به مې دغه فرښتې وپېژندلې. نبغ به ورغلم خپل نوم پته هر څۀ به مې ورته بیان کړل او کار به مې هم ورته وښودلو چې څۀ له راغلے یم. ما وې تۀ به څۀ د خلقو نه تپوسونه کوې. په داسې حالاتو کښې څوک لېوني سپي خو نۀ وو چیچلي چې مونږ له ئې پښتو رساله وېستله یا ئې راسره مدد کولو.

واپس بیا بنو ته ځم، بلکې بنو ته به زۀ بیا هم بار بار ځم ځکه چې کۀ زما جسماني جرړې په ډاګ ښسُود کښې دي نو ذهني او ادبي جرړې مې په بنو کښې دي. زۀ هغه وخت چرته هېرولے شم چې د بنو په وړوکي غوندې ښار کښې به مونږ یو څو ادبي لېوني د شعر و شاعرۍ په دنیا کښې ګرځېدو. طاهر کلاچوي صېب، اثاري ګل اثار، عبدالرحیم مجذوب، سید امیر سرحدي، غازي سیال، ماسټر جمال، خیال میر خیالي، مطیع الله ناشاد قریشي، مجبور سوراني، رجب خان رجب، فلک ناز، همېش خلیل، لائق شاه درپه خېل، سرفراز عقاب خټک، ګل ایوب سېفي، لقمان طارق او داسې نور ملګري چې کله کله به د لکۍ نه رحمت الله درد، سلیم راز د ټانک نه منتظر بېټنے، قیوم مروت د مټرې نه نوابزاده صبح صادق هم راغلل نور هم ډېر وو، وړې وړې مشاعرې وارۀ وارۀ نشستونه. څۀ ډېره د خوند زمانه وه. په بنو کښې د شعر و شاعرۍ دا حال ؤ چې مونږ به مشاعرې له تلو نو په لاره ولاړو عوام الناسو به اکثر داسې خبرې کولې- یو به وئیل دا شاعرون دي، آچها- بل به وئیل- د دوي نه خو دبلۍ نشته. یعنې دوي سره خو طبلې نشته.

ځکه چې تر دغه وخته پورې به شاعر صرف مجلسي او سندرغاړي بلکې ډم ته وئیلے شول او د هغوي په نظر کښې مونږ هم ډمان وو او طبلې راسره ضروري وې.

قاضي عطامحمد ممتاز چې د کوهسار ایډیټر ؤ، یو عجیبه خاموش سړے ؤ. د پښتو او اردو ادب سره خو ئې دومره دلچسپي نۀ وه خو د فارسۍ ادب ډېر لوئے عالم ؤ. د قاضي صېب نور هم ډېر ورونه د ادب په مېدان کښې مشهور دي. یو قاضي سعید محمد ؤ چې د انفارمېشن محکمې ډائرېکټر یا داسې څۀ ؤ خو کشر ورور عبدالمعبود عابد ئې ډېر خلق پېژني چې ډېره موده په رېډیو پاکستان کښې ؤ او په پیارے مشهور ؤ خو د دۀ قیصه او کردار لږ په تفصیل کول غواړي.